
# د سولې سفر



اومه کیسه

دوهم چاپ

# يو نوی ملګری


لیکونکي:

داکتر جوانا سنتا باربارا
ماری- جو لند
داکتر ګرایم مک کوین
کیون آرتر لند

دیزاین: یار محمد تره کي
*انځورکونکئ : ل. غفوری*

*ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل*



موسسه کمک به اطفال افغانستان
**Help the Afghan Children**
www.htac.org

**کيسې او د ښوونکي لارښود په لاندې ويب سايتونو کې شته دئ:**

**[www.journeyofpeace.ca](http://www.journeyofpeace.ca)**

**او**

**[www.htac.org](http://www.htac.org)**

ددې کيسې کتاب د موسسه کمک به اطفال افغانستان په واسطه تمويل او ژباړل شوی دی.

موسسه کمک به اطفال افغانستان

**Help the Afghan Children**

*'building a civil society through education'*

د سولې سفر

**اومه کیسه**

**دوهم چاپ**

# یو نوی ملګری

لیکونکي:

داکترجوانا سنتا باربارا
ماري- جو لند
داکترګرایم مک کوین
کیون آرترلند

دیزاین: یار محمد تره کي

انځورکونکۍ: ل. غفوری

اصلاح کونکي: کیون آرترلند او ماري – جو لند

د پروژې تنظیمونکي: ډاکترصدیق ویرا او ډاکتر ګرایم مک کوین

ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل - موسسه کمک به اطفال افغانستان

دسولې دڅېړنو مرکز ، دمک ماستر پوهنتون
هامیلتون ، آنتریو ، کاناډا

د 1388 کال پسرلی

**په کیسه کې ښکیل کسان :**

**جمیله** : یوه ۱۰ کلنه نجلی چې دافغانستان دیوې لرې پرتې سیمې په یو کلي کې ژوند کوي .

**احمد** : دجمیلې ۵ کلن ورور

**عبدالله**: دجمیلې ۱۵ کلن ورور

**حلیمه** : دکوچنیانو مور

**میرزا**: دکوچنیانو پلار

**بي بي جان** : دکوچنیانو پلرنۍ انا

**غلام کا کا** : دکوچنیانو پلرنۍ نیکه

**یونس** : دکوچنیانو کا کا او دبي بي جان او غلام کاکا کشر زوی ، چې په ۲۰ کلنۍ کې دماین دچاودېدو له امله ووژل شو.

**فاطمه** : دکوچنیانو تروراود یونس کا کا ځوانه کونډه

**علي** : دکوچنیانو تره چې په ښارکې هستوګنه کوي.

**عایشه** : دکوچنیانو ترور ، دعلي میرمن چې په ښارکې ژوند کوي .

## دکيسې لنډيز :

جميله له خپلې کورنۍ سره دافغانستان په يوکلي کې ژوند کوي . دهغې کورنۍ دهېوادپه کورني اخوډب کې پخوا هم ډېرې ستونزې لېدلي وي اوهغه يي لا هېرې شوې نه وې چې يوبل مصيبت ورباندې راغی .
يونس کا کا چې دکښت په ځمکه کې يي کار کولو،يوماين پرې والوت اوهغه يي وواژه اوپلار يي ،ميرزا، يوه پېښه له لاسه ورکړه . **دجميلې دسوغات په کيسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې ديوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، دعبدالله تشويش اوسودا له دې امله ده چې جنګ دده دمکتب ددوران يوملګري ته کلک ګذاروركړی دئ اودهغه په شخصيت اوسلوک يي بدلون راوستی دی . دجميلې دوېرونکوخوبونوراز اوبي بي جان چې غواړي په يوه ځانګړې طريقه دهغې درملنه وکړي په دې کيسه کې ځاي شويدي .

د **بی بی جان د هوښياری په کېسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې د يوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، د عبدالله تشويش او سودا له دې امله ده چې جنګ دده د مکتب ددوران د يوملګري روغتيا ته کلک روحی ګذار ورکړی او دهغه په شخصيت او سلوک کې يې بدلون راوستی دئ ، د جميلې د ويرونکو خوبونو راز او بی بی جان چې غواړی په يوه ځانګړی طريقه د هغې درملنه وکړي په دې کېسه کې ځای شوي دي .

**دکلچودپخولودکېسې** ډېره برخه دجميلې ددردونو اورنځونو څخه حکايت کوي . هغه ماين دومره وېرولې چې په دې برخه کې دعبدالله له قهرېدلوسره سره ، له ماينوڅخه په پاکه شوې لاره هم دتللو په وخت کې لړزېږي . بي بي جان دکلچوپه پخولو کې له جميلې سره مرسته کوي اوله همدې وخت څخه په ګټې اخيستلو کوښښ کوي چې دخپل پلار دټپي کېدلوغم وزغمي . همدارنګه بي بي جان غواړي داسې يوآغېزمنه لارپيداکړي چې دهغې په وسيله فاطمه وهڅول شي هغه غم چې ورته ديونس کا کا دمړينې له امله پيداشوی دئ په خپله ژبه ووايي .

**دميرزا دغمجن زړه په کېسه** کې ،دجميلې لپاره داډېره ستونزمنه ده چې وپوهيږي ، دميرزاپه زړه کې څه رازپروت دئ چې هغه يي دومره غمجن کړيدئ . جميله له دې کبله ډېره خپه ده چې پلاريي اوس هغسې خوښ نه ښکاري لکه له معيوب کېدلو څخه چې مخکې و . پلاريي داسې يو سړی وچې ډېرې کيسې يي زده وې . دجميلې ماشومانه پوښتنې ميرزا ته ژړاورولې ، اودا ورپه يادوي چې هغه پخوا څومره خوشحاله سړی و . اوداهيله ، چې بېرته پخوانی حال پرې راشي ، دده په زړه کې راژوندی کوي .

**ديونس دسندرې په کېسه کې** احمد اوجميله ديونس دځواني کونډې ، فاطمې ، غم اوخپګان احساسوي او کوښښ کوي چې هغه بېرته خوشحاله کړي . بي بي جان هم په دې موضوع پوهېږي ؛ هغه خپلې کورنۍ ته دځينو لارو وړانديز کوي ؛ چې سره راټول شي اوهغه ښي خاطرې چې له يونس څخه ئي لري ؛ دسندروپه ويلوسره ولمانځي .

**د کور پريښودلو په کېسه کې** ، کله چې د شپې له خوا ددوی کلی په ګوليو وويشتل شوددوی کورنۍ له يو وېرونکي حالت سره مخ شوه او دې ته اړ شول چې خپل ډير ګران شی چې هغه ددوی کور و پرېږدي . ددوی د کورنۍ هر غړی شديد رواني ګذار خوري خو په پای کې پوهيږي چې ښه داده له ميراني څخه کاراخلي او دهغو په وړاندې مقابله وکړي .

**د يونوي ملګري په کيسه کې** دميرزا کورني غواړي د علی کورته ولاړه شی . دعلي کورته له رسيدلو څخه مخکې دوی دلارې په اوږدوکې دميرزا دېو پخواني اشنا کورته ورګرځي . دميرزا ددغه دوست په کور کي عبدالله د هغو خلکو په برخه کې چې په نورو ژبو غږيږي اويادبل مذهب پيروان دي دقضاوت کولو يو ارزښتنا ک درس زده کوي.

**ددرملني عنصرونه:**

تصويرونه اودروغتيا نخښې: خندل، خپله ډوډۍ له نورو سره ويشل، نوروته د سر پټېدو ځای ورکول ،

**د سوله اېزوکړو ورو لپاره لارښوونې:**


ميلمه پالنه ، په مستحقو خلکو مهرباني او سخاوت، او دنوې ژبې د زده کړې لپاره کوښښ، ملګرتيا، منل او شوخي

**ستونزې:**

احساس او فردې توپيرو نو ته درناوی ، د کور پريشودلو غم

**ددرملنې لارې:**

احساس اوفردي توپيرونوته درناوی ، له نوروسره مرسته کول اوله نوروڅخه مرسته غوښتل




# یونوي ملګری

جمیلې او دهغې کورنۍ په ډېرې چټکۍ له خپل کلي څخه چې تر بمبارلاندې ووتل او د ښار په لور چې د کلي په پرتله ئی امنیت ښه وکوچېدل . هغوي ټوله ورځ منزل کولو او کله به چې ستړي شول دمه به ئې کوله په ځانګړې توګه دوي د احمد، په خاطر چي کوچنی وو،دبي بي جان او غلام کاکا په خاطر چې ډېربوډاګان وواو دمیرزا په خاطر چې د چکسونو په وسیله به تګ کولو او دا په ټولوکې ډېر دردونکي حالت وو، ځای ځاي دمه کیدل. ټول په خاورو او دوړو سپېره اوککړوو. تږې او ډیر ستومانه وو. د کډوالۍ او کور پرېښودلو غم هم د دوی ستړیا لاپسې زیاتوله..




میرزا وویل: ډېر ژربه یو کلي ته ورسیږو زه دده غونډیو په منځ کې د یوجومات مناروینم. په هغه کلي کې زه یو اشنا لرم. څو کاله ما او هغه د خرو او نورو شیانو د پلورلو او رانیولو معامله درلوده. د هغه نوم امین دئ. زه به له هغه څخه و غواړم چې که وکولئ شي له مونږ سره څه مرسته وکړي. له یو ستومانونکي او ستونزمن سفر څخه وروسته هغوي د امین کورته ورسیدل امین در وازه پرانستله.




امين وويل: "وامې وريدل چې جنګ ستا سو د کلي تر دروازو پورې در رسېدلی دئ"

ميرزا په ډېرې خواښينۍ وويل: "له دروازو څخه هم وړاندې، د کلي ډېرې برخې ورانې شوې دي. مونږ دې ته اړشولوچې کلئ پرېږدو. ټولو خلکو کلئ پريښود. همدا سبب دی چې مونږ دلته راغلو"



امین وویل: "راځئ،
راځئ- هرکله راشئ زما
کور ستاسي خپل
کوردئ. "
امین دوي ټول د کور
داخل ته رهنمايي کړل. د
دوي پنډ وکي ئي
واخيستل او په يو گوټ
کې ئي ځای په ځای
کړل. بيائي خپلې ميرمن
او اوکوچنيانو ته چې
ډېرشرميندونکي
څرگنديدل څه وويل.
عبداله، جميلي او احمد
په ډېرې حېرا نتيا د
هغوي خبرو ته غوږ
نيولئ و خوپه خبروئې نه
پوهيدل. په پای کې دوی
ته جوته شوه چې هغوي
په بله ژبه گړيږي. د
امين د کورنی د هرڅه ليدل که هغه جامې اويا بل کوم شی وو ،عبداله، جميلي او احمد ته نوي وو. هغوي هيڅکله هم څوک په دې ډول لباس کې ليدلي نه وو. د امين ميرمنې، سعبدی، د خوړو په پخولوپيل وکړ. حتی د دوی غذا بوی هم توپير درلود.

کوچنیان ستړي او حیران د انګړ په منځ کې په ځمکه کښېنا ستل. د امین یو کوچني د بي بي جان لپاره یوه چوکۍ راوړه او هغه دلمسیانوڅنګ ته پرې کښیناسته.



بي بي جان وويل: "زما گرانو بچيانو! امين او د هغه کورنۍ او د دوی د کلی ټول اوسېدونکي په بله ژبه خبرې کوي. افغانستان ډول ډول ژبې لري. زمونږ ژبه هم ددې هيواد له ژبو څخه يوه ژبه ده. امين اوسعيده ښه او مهربان خلک دي. تاسو پوهيږئ چې مونږ هم هغوته پردې ښکارېږو"کوچنيانو وخندل تراوسه هغوی داسې فکرکولو چې دامين دکورنۍ دغړو هرڅه به ددوی په ډول وي، اودافکريې هم کاو چې ټول خلک به د دوې شان وي.

هغوي په دې فکر کولوچې دوی څرنګه دامين د کوچنيانو په نظر پر دې معلوميږي . ددې پوښتنی ځواب د دوی په نظر ډېر پېچلی و. همدا لا مل وو چې د امين کوچنيانوهم دوی ته په حيرانتيا اوغلی غلی کتل.



بي بي جان وويل: "له دې سره سره چې مونږ هغوته پردي ښکارو خو هغوی پوهیږي چې مونږ ستړي ستومانه، وږی اوپریشانه یو.

هر څوک د دومره اوږده او ستړی کوونکي سفر په پای کې همداسې حالت سره مخ کیږي. هغوی مونږ ته د چېښلو اوبه راوړې اومونږته خواړه چمتوکوي . ښه وطنداري داده چې دټولومیلمنو یو شانته میلمه پالنه وشي. دا باید په پام کې ونه نیول شی چې څه ډول جامې اغوندې، په کومه ژبه خبرې کوې. د کوم مذهب پېروان دي.


جمیلې پوښتنه وکړه:"بي بي جان! ایا مذهبونه مختلف دي؟ "

بي بي جان ځواب وکړه: "هو لورې، زمونږ پیغمبر ص مونږ ته فرمایلي دي چې مونږ باید د نورو مذهبونو د پېروانو هم میلمه پالنه وکړواوله هغوي سره ښه سلوک وکړو. هر انسان د ستړیا احساس کوي وږئ او غمجن کیږي ټول په خپلو زړونو کې یو دبل په څېر احساس لري. "

جمیلې وویل: "فکر کوم چې سعیدې خواړه چمتو کړي دي. "

دواړه کورنۍ له دسترخوان څخه چاپېره کښیناستلې ، خو ډوډۍ یوائې میلمنو خوړله. کله چې د ډوډۍ خوړل پای ته ورسیدل. دامین یوې مشرې لور په مسکا او پراخ و چولي خوراکونه معرفي کړل. د هر یو نوم ئې په خپله ژبه واخیست .

عبداله او جمیله ډېر شرمیدل ، کوښښ ئې کولو چې د هغوی په ژبه وغږېږي. احمد په بنده بنده ژبه نیمکله نیمکله څه وویل . البته په خبروکې ئې ډېرې غلطۍ وکړې او د امین کورنۍ ئې په خندا راوستله .




احمد خپله هم دومره په زوره او د زړه له تل څخه وخندل چې سترګې ئې له اوښکو څخه ډکې شوې او پر مخ بې را وبهېدلې. ډېر وخت لا وتلئ نه و چې احمد په چوکۍ باندی وېده شو. حتی هغه خپل خوراک هم نه و خلاص کړی .




نورکوچنیان هم ، چې د خوب ځاي وروښودل شو، دو ېده کېدلو لپاره چمتو شول.

سهار کې دميرزا فاميل بيا خپل پڼدونه واخېستل او د سفر لپاره تيار شول. سعيدې وويل: "لږ څه خواړه می چمتو کړي دي ځان سره يې يوسئ. " بيا ئې ځوډوډۍ اولږ پنېر هغوته ورکړ.




ميرزا د هغوی له ميلمه پالنې څخه مننه وکړه. هغه په دې پوهېده چې امين او سعيده يواځې همدومره څه لري چې خپله دوی پرې ژوند وکړې. وروسته ئې دوه جوړې بوټان چې يوئې د احمد اوبل ئې د جميلې لپاره وو، راوړل. او همدارنګه لږوړی ئې ميرزا ته ورکړې چې د چکسونو د لګولو په وخت کې يې له اوږو لاندې کېږدي تر څود تګ په وخت کې تخرګونه خوږ نشي . ميرزا وويل: "نه پوهېږم چې په کومه ژبه ستاسوله مهربانۍ څخه مننه وکړم"

امین او سعیده د دروازی په مخ کې د دې لپاره ولاړ ووچې له هغوی سره خدای پاماني

وکړي او وېې ویل: " په خېر لاړشئ ،خدای مومل شه. "




امین او سعیده د دروازی په مخ کې د دې لپاره ولاړ ووچې له هغوی سره خدای پاماني

وکړي او وېې ویل: " په خېر لاړشئ ،خدای مومل شه. "

د همغې ورځې له غرمې نه وروسته، او دسفر له ساعت وروسته، هغه وخت چې دوي دسرويس ګاډي ته انتظار يوست، هغو غوښتل د سرويس موټر په وسيله د بې ځايه شو و خلکو کيمپ ته ولاړشي، پدې وخت کې د بي بي جان پام شو چې عبدالله او جميله په کومه خبره يو بل سره جنجال لري. د هغې نظر داو کله چې کيمپ ته ورسيږي بيايه ورڅخه د دوي د اختلاف په هکله تپوس وکړي. خو په موټرکې ئې د درې ساعته سفر په اوږ دوکې دا خبره له ياده ووتله..





:

کله چې دوي کیمپ ته ورسیدل له نوم لیکنی وروسته هغوی د یوزاړه ښوونځي  په یوکوټه کې چې ډېر خلک په کې اوسېدل، ځای په ځای شول. دهستګوني په دغه ځای کې ډیر غالمغال وو. دوی ئی  نا آرامه کړل ځکه هغوی ډیر ستړی شوې وو. په دې کوټه کې دومره ګڼه ګوڼه وه چې دوی په سختۍ کولی شو د خوب وخت کې خپله بستره وغوړوي. غلام کاکا ولیدل چې دا کیمپ د هلکان لپاره یو درسی ټولګی هم لری.

میرزا عبدالله ته وویل چې دئ باید هغه ټولګی ته د درس ویلو لپاره ولاړشي، د دې ټولګی ډېر زده کوونکي د عبدالله  کلی ته د نږدی کلیو څخه وو او دوی په خپله ژبه خبری کولې. خو د څو کسانو ژبې د دوی له ژبې سره توپیر درلود. نورو  هلکانو هغوی تنګول او حتی کله به ئې چې غوښتل به چوکۍ کښینی هغوی به پې پورې وهل . عبدالله هغوی ولیدل خو څه ئې ونه ویل. د شپې د ډوډۍ خوړلو په وخت کې ئې هغه څه چې په ټولګی کې لیدلی و خپلی کورنۍ ته بیان کړل اووېی ویل: "ځنې کوچنیان ربښتیا هم عجیبه جامې اغوندې، خولۍ ګانی ېی د سمارق په ډول وې. توبه!  هغوی ښځی لوده ګان معلومیږی، میرزا چې د عبدالله خبرې واوریدلې به تندی ېی وویل:«عبدالله ! د دې فامیل غړو  هیڅکله هم ، حتی هغه وخت چې د ژوند  ډېرې ستونزمنې ورځې هم ورباندې راغلي دي ، نوروته په ټیټه سترګه کتلي نه دي . داکوم ارزښت نه لري چې جامې ئې له تاسو سره تو پیر لری.  نو در څخه وانه ورم هغه کسان چې له تاسو څخه تو پیرلري توهین کړئ اودژوند  چاپېریال وربانديې تنګ کړې.

 بي بي جان وویل: "راځی چې د امین او سعیدې مهربانۍ په یادراوړو.  مونږهم له هغوسره فرق  درلود. مګر هغوی له مونږ سره د ورور او خور په څېر رویه وکړه"  کله چې عبدالله هغه مهربان فامیل، چې دوی د  سفرپه اوږدوکې د هغوی کره تم شوی وو ، په یاد راوړ په دې وپوهید، هغه هلکان چې په مکتب کې وو او له دوی سره ېی توپیر درلود  د امین او سعیدې هم ژبې او د هغوی له کلي څخه دي.

په همدې وخت کې د غلام کاکا غږ اوچت شو وېی ویل: " له نورو سره په خپلو کړو وړو کې میانه رو اوسه  او تل په نرم غږ خبری وکړه ځکه چې په ټولو ناوړه غږونو کې د خره هنګئ تر هر یو بل غږ بد دی. "


L. Grabowi

بله ورځ عبدالله په ښوونځي کې هغه هلکانو ته چې له دوی سره یې توپیر درلود مسکی شو

او په ټولګی کې د هغوی د یو تن په څنګ کې کښیناست، کله چې هغوی لاړل اوبه

وچیکي.عبدالله هغه کلمه چې سعیدې غوښتل هغه ته یې وربښیی په یاد راوړه او د اوبو کلمه

یې د خپل نوی ملګري به ژبه هغه ته وویلی. بل هلک خوشحاله شو مخ یې عبداله ته ور

واړولو چې له هغه سره په خپله ژبه خبرې وکړي. مګر عبداله وخندل او خپل سر ته ئې دنه

په معنا ټکان ورکړ وېی ویل: "یواځې همدومره می زده وو. یواځی د اوبو کلمه، نور پوه

نشوم. "

بل هلک وویل:« پروانه کوي. زه کولی شم ستا په ژبه ښه وغږیږم خو ما له دې کبله خبرې

ونه کړې چې د ټولګي ملګری به مې را پوری وخاندي. "

دواړه هلکان یوبل سره ملګری شول. عبدالله ورو ورودخپل نوي ملګری ژبه زده کړه د

عبداله مور او پلار په دې کار ډېر خوښ شول او وېی ویل: " ډېره ښه ده چې په مختلفو ژبو

وپوهیږو. د ډېرو ژبو زده کول په ژوندکې له تاسره ډېره مرسته کولی شي. ستا نوې ژبه

زده کول مونږ ته راښیی چې په ډېرو ناوړه شرایطو کې هم ځنی وختونه ښې ګټې لاس ته

راتللی شي .

*********